قرآني بيان

د نِعمت د لاس نه د وتو وجهې

د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پۀ 17جولائي، کال 2026ء

(متوقع اِسلامي تاریخ: 2صفر شریف، کال 1448ھ)



د جُمعَةُ المبارک

د مَدَنې مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پۀ 17 جولائي، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاریخ: 2 صفر شریف، کال 1448ھ) د جُمعَۀُ المبارک

قرآني بیان

پۀ نوم

د نِعمت د لاس نه د وتو وجهې

پۀ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د نِعمت د یادولو انداز
- د خورِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نَسب شرافت او عظمت
- د بني اِسرائیلو نافرمانۍ
- نافرمانۍ ذلیله او رُسوا کړل

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبه: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمہ: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

د دُرُودِ پاک فضیلت

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: اَكْثِرُوْا الصَّلَاةَ عَلَيَّ، فَاِنَّ صَلَاتَكُمْ عَلَيَّ زَكَاةٌ لَّكُمْ۔

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چۀ ما باندې ډېر دُرُودِ پاک لولئ بې شکه ستاسو په ما باندې درود شریف لوستل ستاسو د پاره د پاکۍ باعث دي۔ (1)

ہر گھڑی سانس کو مہکاتا ہے جن کا نامِ پاک
ہے ضمیروں میں بھی جن کی روشنی اُن پر درود و سلام

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْاٰنِ الْكَرِيْم (الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي):

يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَاَنِّيْ فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۷﴾ (پارہ: 1، سورۃ البقرۃ: 47)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1 ... مسند ابی یعلیٰ، مسند ابی ہریرۃ، شہر بن حوشب، جلد:5، صفحہ:62، حدیث:6407۔

[مفهوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: اے د یعقوب اولاده! یاد کړئ زما هٰغه اِحسان چې ما په تاسو کړے دے چې ما تاسو ته د هٰغې زمانې په ټول عالَم باندې غوره والے درکړے وو۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

د آیت مبارک مختصر وضاحت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په وړومبۍ سیپاره کښې زیاتره کلام د بني اِسرائیلو سره دے، بني اِسرائیل د حضرت یعقوب عَلَیْہِ السَّلَام اولاد ته وئیلے کیږي، د وړومبۍ سیپارې تقریباً په درېو حصو کښې بني اِسرائیلو ته د اِیمان دعوت ورکړے شوے دے، د سورۂ بقره د آیت: 40 نه د دوئي سره کلام شروع کیږي، په دې باره کښې آیت: 47 مونږه واورېدو، په دې کښې هم بني اِسرائیلو ته د ایمان قبلولو، اِسلام ته د داخلېدو دعوت ورکړے شوے دے چې د **اللہ** پاک آخري نبي محمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رښتونے نبي اُومنئ او د هغوئ د کرم ځولې ونیسئ- د دې نه مخکښې چې کوم 6 آیتونه دي، په هغې کښې بني اِسرائیل وېرولے شول، د اخرت وېره ورکړے شوه، او د دې خبرې اِحساس ورکړے شو چې د قیامت په ورځ به دوئي د خپلو بدو اعمالو جواب ورکوي، اوس په آیت 47 کښې د یو بل اړخ نه دوئي ته د اِیمان راوړلو ترغیب ورکولے شي، اِرشاد دے:

یٰبَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ

[مفهوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: اے د یعقوب اولاده!

(پارہ: 1، سورۃ البقرۃ: 47)

یعني اے د **اللہ** پاک د نېک او فرمانبرداره بنده، د اوچتې مرتبې د نبي حضرت یعقوب عَلَیْہِ السَّلَام اولاده---!

اُذْكُرُوْا نِعْمَتِیَ الَّتِیْۤ اَنْعَمْتُ عَلَیْكُمْ

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: یاد کړئ زما هٰغه اِحسان چې ما په تاسو کړے دے-

(پارہ: 1، سورۃ البقرۃ: 47)

یعني هٰغه نِعمتونه کوم چې د زرګونو کالو پورې **اللہ** پاک ستاسو په پلار نیکونو

باندې او د هغوئ پۀ واسطه پۀ تاسو باندې فرمائي، هٰغه نِعمتونه یاد کړئ--!! او د شُکرانې پۀ توګه د **الله** پاک فرمانبرداري اِختیار کړئ او زمونږ د خورږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کرم ځولی ونیسئ!

د نِعمت د یادولو انداز

پۀ دې ځائے کښې علمائے کرامو یو ډېر ښکلے وضاحت کړے دے او لیکلي یې دي چې بني اِسرائیلو ته د نِعمتونو یادولو حکم اوکړے شو، د نِعمتونو د یادولو انداز مختلف وي، پۀ مونږ باندې هم د **الله** پاک ډېر اِنعامونه دي، دومره اِنعامونه دي چې شمېرلے یې نۀ شو، مونږ هم بعضې وخت دا نِعمتونه یادوو خو څنګه یې یادوو؟ کله د فخر کولو په انداز وایو: مثلاً وګورہ! ❁ زما سره ډېر ګاډي دي ❁ زما سره ډېرې بنګلې دي ❁ زما سر ډېر مال او دولت دے ❁ زۀ ډېر مالداره یم ❁ زۀ د عهدې والا یم ❁ زۀ د منصب والا یم ❁ زۀ فلانکے خان یم، داسې خبرې کول نور خلق کمتره ګڼل دي، دا هم د نِعمتونو د یادولو یو انداز دے خو پۀ دې کښې فخر دے، نور خلق کم تر ګڼل دي، ځکه علمائے کرامو لیکلي دي چې د فخر پۀ توګه نِعمتونه یادول حرام دي (ځکه چې پۀ دې کښې تکبر او ځان خوښي ده)۔ [1]

دغه شان د نِعمتونو یادولو یو بل انداز د شُکر والا وي، مثلاً مونږ وایو: ❁ اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! زما سترګې سلامتې دي ❁ اَلْحَمْدُلِلّٰہ! زما لاسونه سلامت دي ❁ اَلْحَمْدُلِلّٰہ! زما ښپې سلامتې دي ❁ اَلْحَمْدُلِلّٰہ! **الله** پاک چا ته محتاجه کړے نۀ یم، داسې د شُکر والا لِهجه کښې اِنسان نِعمتونه یادوي، دا چې کوم انداز دے، دا پۀ زړۀ کښې د **الله** پاک محبت زیاتوي۔ ځکه علمائے کرامو فرمائیلي دي چې بني اِسرائیلو ته ووئیلے شو:

---

[1]... تفسیر نعیمی، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت:47، جلد:1، صفحہ:354 مفصلاً۔

يٰبَنِيْۤ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا

(پارہ: 1، سورۃ البقرۃ: 47)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: اے د یعقوب اولاده! یاد کړئ-

دلته د اُذْكُرُوا معنیٰ ده: اُشْكُرُوا یعنې اے بني اِسرائیلو! شُکر ادا کړئ--!! [1] او د دې شُکر انداز به څنګه وي؟ کلمه ولولئ او زمونږ د خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلامان جوړ شئ--!!

تھام لے دامنِ شاہِ لَولاک تُو | سچّی تَوبہ سے ہو جائے گا پاک تُو [2]

په بني اِسرائیلو شوے یو اِنعام

اوس هٰغه نِعمتونه کوم کوم دي چې په بني اِسرائیلو باندې شوي وو؟ په هغې کښې د یو نِعمت ذِکر الله پاک په دې آیت مبارک کښې فرمائیلے دے، اِرشاد دے:

وَ اَنِّیْ فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعٰلَمِیْنَ۝۴۷

(پارہ: 1، سورۃ البقرۃ: 47)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: او دا چې ما تاسو ته د هٰغې زمانې په ټول عالَم باندې غوره والے درکړے وو-

یعنې اے بني اِسرائیلو! یاد کړئ--!! د حضرت یعقوب عَلَيْهِ السَّلَام نه واخله د حضرت عیسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام پورې کومه چې د زرګونو کالو موده ده ❁ په دې ټوله موده کښې په ټوله دُنیا کښې، په ټولو قامونو باندې تاسو ته فضیلت درکړے شوے وو، په دې ټوله موده کښې د ټولو نه افضل خلق تاسو وئ ❁ تقریباً 4 زره انبیائے کرام عَلَيْهِمُ السَّلَام ستاسو د پاره راولېږلے شول ❁ په 4 اسماني کتابونو کښې 3 کتابونه: تورات، اِنجیل، زَبور ستاسو په ژبه کښې ستاسو د پاره نازل کړے شول ❁ په دغه موده کښې د الله وحي هم ستاسو د پاره نازلېدله ❁ د اسماني کتابونو خزانې ستاسو سره وې ❁ د اسماني دِین عِلم هم ستاسو سره وو ❁ د ټول جهان سرداران هم تاسو وئ ❁ لوئي لوئي عادلان بادشاهان په تاسو کښې پیدا کړے شول ❁ لوئي لوئي علمائے کرام په تاسو کښې پیدا کړے شول ❁ لوئي لوئي

---

[1] ...تفسیر روح البیان، پارہ: 1، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت: 47، جلد: 1، صفحہ: 128۔

[2] ...وسائلِ بخشش، صفحہ: 656۔

عابدان، اولیاءَ الله په تاسو کښې پیدا کړے شول ❁ د زرګونو کالو پورې دا د فضیلتونو والا تاج هم ستاسو په سر وو، ځکه اوس د دې نِعمتونو شُکر ادا کړئ، زمونږه محبوب نبي، اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشریف راوړے دے، د دوئي د کرم ځولې ونیسئ! د دوئي کلمه ولولئ، په دوئي باندې اِیمان راوړئ! د پاره د دې چې ستاسو دا عزتونه، ستاسو دا عظمتونه په ځائے پاتې شي، د اوسه پورې تاسو د انبیاؤ د اولاد په وجه سرداران وئ، اوس د اِمامُ الانبیا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمتیان جوړ شئ او د خبرِ اُمَّت اعلیٰ خطاب حاصل کړئ---!! [1]

اعلیٰ حضرت، اِمامِ احمد رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه څومره د عشق نه ډک خبره کړې ده: سُبْحٰنَ الله!

عاصیو! تھام لو دامن اُن کا | وہ نہیں ہاتھ جھٹکنے والے [2]

یو ډېر اَهم وضاحت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د آیت مبارک د تفصیل په توګه یو اهم وضاحت دلته په خپل ذِهن کښې کښېنوئ! د **الله** پاک د خلیل حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلَام 2 ځامن وو: **(1)**: یو حضرت اِسماعیل عَلَيْهِ السَّلَام **(2)**: بل حضرت اِسحاق عَلَيْهِ السَّلَام-

حضرت اِسماعیل عَلَيْهِ السَّلَام عربو ته تشریف راوړے وو، د عربو چې کومه ټوله سیمه ده، دلته زیاتره د حضرت اِسماعیل عَلَيْهِ السَّلَام اولاد آباد وو-

حضرت اِسحاق عَلَيْهِ السَّلَام شام او فلسطین وغیره چې کوم ملکونه دي هغوئي هلته تشریف فرما وو، بیا د هغوئي په اولاد کښې حضرت یعقوب عَلَيْهِ السَّلَام وو، د حضرت یعقوب عَلَيْهِ السَّلَام 11 ځامن وو، بیا د هغوئي اولاد وشو او مخکښې نسل لاړو، ځکه چې د شام او د فلسطین ملکونو کومه ټوله سیمه ده، دلته د حضرت یعقوب عَلَيْهِ السَّلَام اولاد یعنې بنې اِسرائیل وو-

---

[1]... تفسیر نعیمی، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت:47، جلد:1، صفحہ:354۔

[2]... حدائقِ بخشش، صفحہ:163۔

د حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام نه واخله د حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام پورې بني اِسرائيل پۀ ټوله دُنيا كښې افضل قوم وو خو اِمام جلالُ الدين سُيوطي شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليكلي دي: پۀ دې ټوله موده كښې بني اِسرائيل افضل ضرور وو خو د دُنيا د هر يو ګس نه افضل نۀ وو بلكې د عرب پۀ سيمه كښې چې د حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام كوم اولاد راروان وو، پۀ هغوئي كښې پۀ خاص توګه هٰغه د اوچتې مرتبې خلق كوم چې د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ سلسلۀ نسب كښې راتلل، يعني هٰغه خوش قِسمته د كومو پۀ تندي كښې چې د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نُور مبارک ځلېدو، هغوئي پۀ خپل خپل وخت كښې د بني اِسرائيلو نه هم افضل وو۔ [1]

د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نسب شرافت او عظمت

پۀ ذَخَائِرُالعُقبٰى كښې دي: يو ځل د قربشو يو خو كسان د مېلمنو پۀ توګه د نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم [د والد محترم د اړخه] د ترور حضرت صفيه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا كور ته راغلل، پۀ خبرو خبرو كښې پۀ هغوئي كښې چا ووئيل: پۀ بنو هاشِم كښې د مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مثال پۀ خرابه زمكه د زرغونېدونكي كجورې پۀ شان دے (يعني زمونږ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه افضل، د ډېر اعلىٰ صفتونو او كمالونو والا دے خو پۀ دې كښې د بنو هاشم هيڅ فضيلت نشته ځكه چې بنو هاشِم د خرابې زمكې پۀ شان دے)۔ رسولِ انور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې د دې خبرې نه خبر شو نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ جلال كښې راغلو او حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته يې وفرمائيل: اے بلاله! خلق راجمع كړه--!! بيا نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ منبر باندې تشريف فرما شو، د اللہ پاک حمد او ثنا يې بيان كړه او وه يې فرمائيل: څۀ حال دے د هٰغه خلقو كوم چې زما د خپلوانو سره سپكې خبرې كوي،

---

[1]... حضور کے آباء کی شانیں، صفحہ:25 مفصلًا۔

پۀ **الله** پاک مې دې قَسم وي! زۀ د نسل پۀ لحاظ سره د دې ټولو نه افضل يم۔[1] **پۀ يو روايت کښې دي:** نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: بے شکه **الله** پاک مخلوق جوړ کړو، زۀ يې پۀ بهترين مخلوق کښې وساتلم، بيا يې دا دوه ډلې کړو نو زۀ يې پۀ بهترينه ډله کښې وساتلم، بيا يې ډلې پۀ قبيلو کښې تقسيم کړې نو زۀ يې پۀ بهترينه قبيله کښې وساتلم، بيا يې قبيلې پۀ خاندانونو کښې تقسيم کړې نو زۀ يې د بهترين خاندان نه کړم، زۀ پخپله هم د ټولو نه بهتر يم، زما خاندان هم ستاسو د ټولو د خاندانونو نه بهتر دے۔[2]

جس کے ہوں فرزند وہ، اُس کو شرف کیوں کر نہ ہو
گوہرِ نایاب سے فخرِ صدف کیوں کر نہ ہو

وضاحت: د صَدَف معنیٰ ده: سيپۍ۔ د کومې سيپۍ نه چې نايابه هيره راووځي، هغه سيپۍ هم د ډېر اهميت والا وي، هم داسې زمونږه خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې د کومو پاکو خلقو اولاد دے، د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نسبت پۀ وجه هغوئ ته هم ډېر سعادت مېلاؤ دے۔

د دې نه معلومه شوه چې زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې څومره هم پلار نيکونه دي، هغوئ ټول پۀ خپل خپل وخت کښې د ټول جهان د خلقو نه افضل وو، آؤ! د هغه وختونو چې کوم نبيان وو، هغه د هغوئ نه افضل وو ځکه چې نبي، د هر غېرِ نبي نه افضل وي۔

حضرت مَعَد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

د مثال پۀ توګه حضرت مَعَد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سرکارِ اعظم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شلم نيکه بابا جان دے۔ حضرت مَعَد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د 12 کالو وو کله چې ظالِم بادشاه بُخت نصر پۀ

---

[1]... ذخائر العقبی، القسم الاول، الباب الثالث فی فضل بنی ہاشم، صفحہ:42 خلاصۃً۔
[2]... ترمذی، کتاب المناقب عن رسول اللہ... الخ، باب ماجاء فی فضل النبی، صفحہ:825، حدیث:3615۔

عرب باندې حمله اوکړه، هغه وخت **الله** پاک حضرت اَرمیا عَلَیْہِ السَّلَام ته وحي وفرمائیله چې حضرت مَعَد پۀ تیزه سوَرلی باندې کښېنوه او د ځان سره یې راوله د پاره د دې چې هغوئي ته څۀ تکلیف وه نۀ رسي، بے شکه زۀ به د هغوئي پۀ اولاد کښې نبي آخر الزمان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پیدا کووم- نو حضرت اَرمیا عَلَیْہِ السَّلَام حضرت مَعَد رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د ځان سره کړو او شام ملک ته یې تشریف یوړلو، د حضرت مَعَد رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ روزنه پالنه پۀ بني اِسرائیلو کښې وشوه-[1] د بُخت نصر د مرګ نه پس یې واپس مکے مکرمے ته تشریف راوړلو-[2]

د حضرت ابو اُمامه باهلي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے، رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د حضرت مَعَد رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ پۀ اولاد کښې 40 کسانو د بني اِسرائیلو پۀ یو لښکر باندې حمله اوکړه، ځکه حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام وغوښتل چې د هغوئي د پاره د هلاکت دعا اوکړي خو **الله** پاک وحي وفرمائیله: اے موسیٰ! د هغوئي د پاره د نقصان دعا مۀ کوئ، بے شکه زۀ به پۀ دوئي کښې بشیر او نذیر نبي، نبي اُمّي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پیدا کووم-[3]

سُبْحٰنَ اللّٰہ! دا زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پاک نسب فضیلت دے--!! چا عاشق ډېر ښه وئیلي دي:

تَنْقُلُ اَحْمَدُ نُوْرًا عَظِیْمًا ... تَلَأْلَأُ فِیْ جَبَاهُ السَّاجِدِیْنَا
تَقَلَّبَ فِیْهِمْ قَرْنًا فَقَرْنًا ... اِلٰی اَنْ جَاءَ خَیْرُ الْمُرْسَلِیْنَا[4]

وضاحت: د احمدِ مُجتبیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عظمت والا نُور پۀ ساجِدِینو (د نـمونځ

---

[1]... سبل الهدی، الباب الرابع فی شرح اسماء آبائہ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم، ابن معد، جلد:1، صفحہ:293 خلاصۃً۔
[2]... السیرۃ النبویہ لزینی دحلان، باب فیما ورد لسان الانبیاء... الخ، جلد:1، صفحہ:20 بتغیر قلیل۔
[3]... معجم کبیر، جلد:4، صفحہ:276، حدیث:7514 خلاصۃً۔
[4]... حاوی للفتاوی، الفتاوی الاصولیۃ الدینیۃ، مسالک الخفاء فی والدی المصطفی، صفحہ:627۔

ګزارو او عبادت ګزارو) پۀ تندو کښې ځلېدو او نسل پۀ نسل د يو نه بل ته منتقل کېدلو، د دې پورې چې هغه خَيرُ المُرسَلِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جوړ شو او دُنيا ته يې تشريف راوړلو-

د نِعمت د لاس نه د وتو وجهې

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږه آيت مبارک واورېدو، **الله** پاک د بني اِسرائيلو پۀ باره کښې وفرمائيل:

وَ اَنِّیْ فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعٰلَمِیْنَ۝۴۷ (پارہ: 1، سورۂ البقرۃ: 47)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: او دا چې ما تاسو ته د هٰغې زمانې پۀ ټول عالَم باندې غوره والے درکړے وو-

يعنې بني اِسرائيل پۀ خپله زمانه کښې د ټولو جهانونو نه افضل وو، دلته پوښتنه دا ده چې بني اِسرائيلو ته کله دا فضيلت ورکړے شوے وو، هغوئ د ټولو جهانونو نه افضل جوړ کړے شوي وو نو بيا د هغوئ نه هٰغه فضيلت ولې واپس واخستے شو--؟ ځۀ وجه وه چې دوئ پۀ خپله زمانه کښې خو د ټولو نه افضل وو خو اوس افضل نۀ دي پاتې؟ که چرې مونږ قرآنِ کريم پۀ غور سره ولولو نو معلوميږي چې ډېرې داسې وجهې وې د کومو پۀ وجه چې د بني اِسرائيلو نه د فضيلتونو تاج واپس واخستے شو- هغه ځۀ ځۀ وجهې دي، مونږ پۀ هغې کښې د يو څو وجو پۀ باره کښې اورو او مونږ ته دا پۀ ذِهن کښې ساتل دي او اورېدل دي چې دا هٰغه وجهې دي، د کومو پۀ وجه چې نِعمتونه د لاسو نه ووځي، نو ځکه مونږ ته د داسې کارونو نه بچ کېدل دي-

(1): د نبي سپکاوے

د بني اِسرائيلو نه د فضيلتونو تاج د لاس نه د وتو يوه وجه دا وه چې دې خلقو د نبيانو سپکاوے کولو، ټولو نۀ، پۀ دوئ کښې ډېر داسې نېکان خلق هم وو، اولياءُ الله هم وو، البته! پۀ مجموعي توګه پۀ دوئ کښې ډېر هٰغه خلق وو، کومو چې به د نبيانو سپکاوے کولو- **الله** پاک فرمائي:

وَضُرِبَتْ عَلَیْهِمُ الذِّلَّةُ وَ الْمَسْكَنَةُ (پاره: 1، سورۂ البقرة: 61)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او پۂ هغوئي خواري او نېستي مسلط کړے شوه-

یعنې بني اِسرائیل پۂ ذِلت او مسکینۍ کښې اخته کړے شول-

وَ بَآءُوْ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ (پاره: 1، سورۂ البقرة: 61)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او هغوئي د اللّٰه د غضب حقدار شو-

داسې ولې وشول؟ فرمائي:

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَانُوْا یَكْفُرُوْنَ بِاٰیٰتِ اللّٰهِ وَ یَقْتُلُوْنَ النَّبِیّٖنَ بِغَیْرِ الْحَقِّ (پاره: 1، سورۂ البقرة: 61)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: دا خواري او غریبي پۂ دې وجه وه چې هغوئي د اللّٰه د آیتونو اِنکار کولو او انبیاء به یې ناحقه شهیدان کول-

اَللّٰهُ اَکْبَر! څومره ګستاخان وو، هغوئي انبیائے کرام علَیهِمُ السَّلام شهیدان کړل، صحابیِ رسول، حضرت عبد اللّٰه ابن مسعود رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: هُم پۂ یوه ورځ کښې بني اِسرائیلو 300 انبیائے کرام علَیهِمُ السَّلام شهیدان کړل [1] ❁ حضرت زکریا عَلَیْهِ السَّلَام دوئي شهید کړو ❁ حضرت یحییٰ عَلَیْهِ السَّلَام دوئي شهید کړو ❁ حضرت شعیا عَلَیْهِ السَّلَام دوئي شهید کړو [2] ❁ د حضرت عیسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام د سر دښمنان هم دوئي وو او د دې نه علاوه څومره انبیائے کرام علَیهِمُ السَّلام دي کومو ته چې دې خلقو تکلیفونه رسولي وو- د اللّٰه پاک نبي حضرت موسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام دوئي ته فرمائیلي وو:

یٰقَوْمِ لِمَ تُؤْذُوْنَنِیْ وَ قَدْ تَّعْلَمُوْنَ اَنِّیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَیْكُمْ (پاره: 28، سورۂ الصف: 5)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: اے زما قومه! ما ته ولې تکلیف راکوئ حالانکې تاسو ته معلومه ده چې زۂ ستاسو طرف ته د اللّٰه رسول یم-

---

[1]... تفسیر در منثور، پاره: 1، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت: 61، جلد: 1، صفحہ: 178۔

[2]... تفسیر خزائن العرفان، پاره: 1، سورۂ بقرۃ، زیر آیت: 61، صفحہ: 23۔

يعنې اے قومه! تاسو ته معلومه ده چې زهٔ د **الله** رسول يم، د دې باوجود تاسو ما ته تکليف رارسوئ---!! کله چې دوئ د دې پوهه کولو باوجود منع نهٔ شول نو څهٔ وشو؟

الله پاک فرمائي:

فَلَمَّا زَاغُوْۤا اَزَاغَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ ؕ

(پاره:28، سورۂ الصف:5)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: بيا چې کله هغوئ کاږه شول نو **الله** د هغوئ زړونه کاږه کړل-

اَللّٰهُ اَکْبَر! څومره سخته سزا ده---!! د نبيانو د سپکاوي پهٔ سزا کښې د دوئ زړونه کاږه کړے شول- د دې نه معلومه شوه چې نِعمت د هغهٔ د پاره نِعمت وي څوک چې د نبي ادب کوي، فضيلت هٰغه خلقو ته مېلاؤېږي څوک چې د نبي ادب کوي، عظمت هغوئ ته مېلاؤېږي څوک چې د نبي ادب کوي، عزت هٰغه خلقو ته عطا کيږي کوم چې د نبي ادب کوي-

وګورئ چې ابو لَـهب د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترۂ وو خو هغهٔ بے ادبي اوکړه نو **الله** پاک هغه تباه او برباد کړو خو حضرت بِلال رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د حبشے اوسېدونکے وو، د غلامیِ ژوند يې تېرولو، د **الله** پاک پهٔ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې عاشق وو، **الله** پاک د قيامته پورې راتلونکو د پاره هغوئ سردار جوړ کړو-

اِقبال کس کے عشق کا یہ فیضِ عام ہے
رُومی فنا ہوا، حبشی کو دوام ہے

وضاحت: يعنې دا د کومې هستيِ د عشق عام فېض دے چې د سکندر رُومي پهٔ شان پهٔ ټوله دُنيا باندې حکومت کوونکے بادشاه ختم شو او صحابيِ رسول، حضرت بِلال رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د عشقِ رسول پهٔ برکت همېشه پهٔ زړونو باندې حکومت حاصِل کړو-

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ له پکار دي چې همېشه با ادبه اوسو، د نبيانو عَلَيهِمُ السَّلام ادب کوو، د وليانو رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْهِم هم ادب کوو، د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم هم ادب کوو او د اهلِ بيتو عَلَيهِمُ الرِّضوَان هم همېشه ادب، ادب او ادب کوو ځکه چې

باادب بانصیب، بے ادب بے نصیب

(2): حَسَد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د بني اِسرائیلو د لاس نه فضیلت ولې ووتو، د دې دوہمه وجه حَسَد دے- حَسَد وئیلے شي سوزېدو ته- د چا سره چې څۀ نِعمت ولیدلے شي نو د هغه نه سوزېدل شروع کړي، او خواهش کوي چې د هغه نه دا نِعمت واخستے شي، یا خو ما ته مېلاؤ شي او یا د هغۀ سره هم پاتې نۀ شي- [1] او بني اِسرائیل حَسَد کوونکي وو- ځکه د هغوئي نه فضیلت واخستے شو- بني اِسرائیل د حَسَد پۀ دې بیماریَ کښې د کوم حده پورې اخته وو، د دې یوه عبرتناکه واقعه واورئ!

کعب بن اَشرف کوم چې د بني اِسرائیلو یو ډېر مالداره ګس وو او ډېر لوئي ګستاخِ رسول هم وو، یو ځل د خپلو 70 ملګرو سره مکے مکرمې ته ورسېدو او د مکے غېر مسلمو ته یې ووئیل: تاسو د مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره جنګ اوکړئ! مونږ به ستاسو ملګرتیا کوو- قرېشو ووئیل: وګورئ چې تاسو خلق هم کتابیان یئ (یعنې پۀ اسماني دِین باندې روان یئ، **اللہ** پاک یو منئ)، ځکه مونږ پۀ تاسو باندې یقین نشو کولے، څۀ پته لګي چې تاسو مونږ د جنګ د پاره ولـمسوئ او بیا بالکل د جنګ پۀ موقع مونږ یواځې پرېږدئ! ځکه وړومبے مونږ له یقین راکړئ چې تاسو به زمونږ سره یئ---!! کعب بن اشرف او د هغوئي ملګرو ووئیل: ستاسو څنګه یقین پکار دے؟ قرېشو ووئیل: وګورئ چې تاسو هم د مسلمانانو پۀ شان د یو خُدائے عبادت کوئ، تَوحِید منونکي یئ، که چرې تاسو خپله دا عقیده پرېږدئ او زمونږه دې (دروغژنو) خُدایانو ته سجده اوکړئ نو مونږ به اومنو چې تاسو زمونږ سره یئ---!! دا یې چې واورېدل نو کعب بن اشرف او د هغوئي ملګرو د لږ لم لېټ نه هم کار وانخستو او فوراً د کانړو مخې ته سر پۀ سجده شول- پۀ دې باندې **اللہ** پاک

---

[1]... حدیقۂ ندیۃ، الباب الثانی، الخلق الخامس، عشر الحَسَد، المبحث الاول، جلد:3، صفحہ:34 خلاصۃً۔

دا آیت مبارک نازل کړو، اِرشاد دے: [1]

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِیْنَ اُوْتُوْا نَصِیْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ یُؤْمِنُوْنَ بِالْجِبْتِ وَ الطَّاغُوْتِ

(پارہ:5، سورۃ النساء:51)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: آیا تا هغه خلق وه نۀ لیدل کومو ته چې د کتاب یوه حِصه ورکړے شوه هغوئي پۀ بُت او شیطان اِیمان راوړو-

الله! الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! غور اوکړئ چې آیا اِنسان د حَسَد پۀ وور کښې د سوزېدو پۀ وجه دومره هم غورځېدے شي--!! بني اِسرائیلو ته معلومه وه او د زړۀ نه یې منله هم چې مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رښتونے نبي دے، هم دوئي خو وو چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راتللو نه مخکښې به یې د هغوئي دُنیا ته د تشریف راوړلو زیري ورکول، د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نوم پۀ وسیله باندې به یې دعاګاني کولې خو افسوس چې دوئي د حَسَد پۀ وور کښې وسوزېدل او پۀ دې وور کښې د سوزېدو په وجه دومره وغورځېدل چې هغوئي شِرک کول خو خوښ کړو خو د مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کلمه لوستل یې خوښ نۀ کړل-

معلومه شوه چې ❁ دا حَسَد دے کوم چې اِنسان د هدایت د لارو نه منع کوي ❁ دا حَسَد دے کوم چې اِنسان پۀ ډېرو خرابو کارونو کولو باندې راپاروي او ❁ دا هم حَسَد دے کوم چې اِنسان د ذِلت او د رسوایۍ ژورې کندې ته غورځوي-

د ټولو نه وړومبے حَسَد چا اوکړو؟

حضرت علامه جلالُ الدّین سُیوطي شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **نقل کوي:** د رَبِّ کریم وړومبۍ نافرماني چې د کومې ګناه پۀ ذریعه اوکړے شوه، هغه حَسَد دے، اِبلیس مَلعُون حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام ته د سجدې کولو [د حُکم] پۀ معامله کښې د هغوئي سره حَسَد اوکړو،

---

[1]... تفسیر نسفی، پارہ:5، سورۂ نساء، زیرِ آیت:51، جلد:1، صفحہ:365 مفصلًا۔

ځکه هم دغه حَسَد اِبليس د اللهُ رَبُّ اَلعٰلَمِين پۀ نافرمانۍ باندې راپارولو۔ [1]

حَسَد د اِيمان نه خلاصوونکې بيماري ده

د **اللہ** پاک د خوږِ حبيب، حبيبِ لبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: پۀ تاسو کښې د مخکښنو اُمتونو بيماري حَسَد او بُغض خور شوے دے، دا خرېونکې ده، زۀ دا نۀ وايم چې دا وېښته خرېوي خو دا دِين خرېوي۔ [2]

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: داسې چې دِين او اِيمان د جړې نه ختموي کله انسان پۀ بُغض او حَسَد کښې اِسلام هم پرېږدي، شېطان هم دې 2 بيمارو وهلے دے۔ [3]

پۀ **حديثِ پاک** کښې دي: اَلْحَسَدُ يُفْسِدُ الْاِيْمَانَ كَمَا يُفْسِدُ الصَّبِرُ الْعَسَلَ يعنې حَسَد اِيمان داسې خرابوي، لکه څنګه چې ايلوا (د يوې ترخې وني رَس) شات خرابوي۔ [4]

بَوقتِ نَزع سلامت رہے مرا اِيماں
مجھے نصيب ہو توبہ، ہے التجا يارب! [5]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دې روايتونو نه معلومه شوه چې **حَسَد د اِيمان نه خلاصوونکې بيماري ده**، ځکه مونږ له پکار دي چې مونږ د حَسَد نه ځان بچ کړو، بس هم دا خپل ذِهن جوړ کړئ چې **اللہ** پاک چا ته څۀ عطا کړي دي، صحيح يې عطا کړي دي او ما ته چې يې څۀ عطا کړي دي زما د پاره هغه ښۀ دي۔ د دې پۀ برکت به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم!

---

[1]... تفسیر در منثور، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت:34، جلد:1، صفحہ:125۔
[2]... ترمذی، ابواب صفۃ القیامۃ والرقائق والورع، صفحہ:593، حدیث:2510۔
[3]... مرآۃ المناجیح، جلد:6، صفحہ:615۔
[4]... جامع صغیر، صفحہ:232، حدیث:3819۔
[5]... وسائلِ بخشش، صفحہ:87۔

د حَسَد د افت نه محفوظ اوسې۔ اللہ پاک دې مونږ د دې خراب افت نه محفوظ وساتي۔

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

(3): نافرماني او سرکشي

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! بني اِسرائيل د ټولو قومونو نه افضل وو، ذليله او رسوا ولې شول، د دې يوه بله وجه سرکشي هم ده۔ اللہ پاک فرمائي:

ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّ كَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ﴿۶۱﴾

(پارہ: 1، سورۃ البقرۃ: 61)

[مفہوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: دا ۂ دې وجه وو چې هغوئ نافرماني اوکړه او هغوئ پرله پسې سرکشي کوله۔

د اللہ پاک حدونو ماتولو (يعنې د حرامو حلال ګڼلو) ته سرکشي وئيلے شي۔[1] ❁ کله چې اِنسان يوه صغيره [يعنې وړه] ګناه وکړي نو د دې سپېرۂ والے هغه دويمې ګناه طرف ته بوځي ❁ بيا د هغې ګناه سپېرۂ والے هغه درېمې ګناه طرف ته بوځي ❁ بيا ۂ داسې کولو کولو اِنسان ۂ کبيره [يعنې لوئي] ګناهونو کښې اخته شي ❁ بيا ۂ ګناه کولو کولو د هغۂ زړۂ تور شي ❁ بيا يې دا حالت شي چې هغه له ګناه سکون او نېکي بے سکوني ورکوي، ګناه د هغۂ د عادت حصه جوړه شي، داسې د هغۂ ۂ زړۂ باندې غفلت راخور شي۔

د بني اِسرائيلو نافرمانۍ

بني اِسرائيل هم دې حالت ته رسېدلي وو، ګناهونه کول د هغوئ عادت جوړ شوے وو، خو هم دا وجه ده چې د اللہ پاک د طرف نه ۂ هغوئ باندې پرله پسې اِنعامونه کېدل او د هغوئ د طرف نه پرله پسې نافرمانۍ کېدلې، د مثال ۂ توګه ❁ اللہ پاک هغوئ ته د فرعون نه ازادي عطا کړه، دوئ د حضرت موسیٰ عَلَيْہِ السَّلَام نافرمانه شول ❁ حضرت موسیٰ عَلَيْہِ السَّلَام د دوئ د هدايت د پاره کوہِ طُور ته د تورات شريف د اخستو د پاره لاړو، دوئ د سخي [يعنې د غوا د بچي] عبادت شروع کړو ❁ اللہ پاک د دوئ توبه قبوله کړه د

---

[1]... تفسیر بیضاوی مع حاشیہ شیخ زادہ، پارہ: 1، سورۂ بقرۃ، زیر آیت: 61، جلد: 2، صفحہ: 74 خلاصۃً۔

پاره د دې چې دوئي شُکر ګزاره شي خو دوئي په حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام باندې اعتبار اونکړو، وه يې وئيل: مونږ خو به د هٰغه وخته پورې نۀ منو، د څو پورې چې مو **الله** پاک په خپلو سترګو نۀ وي ليدلے، بيا په دوئي باندې عذاب راغلو، بيا ورته معافي اوکړے شوه د پاره د دې چې شُکر ګزاره شي خو دوئي بيا نافرمانۍ اوکړې ❁ د دوئي د پاره د اسمان نه مَن او سلویٰ نازل کړے شول، پاخه خوراکونه راغلل، دوئي بيا نافرماني اوکړه ❁ د دوئي د پاره د کانړو نه 12 چينې جاري شوې، دوئي بيا نافرماني اوکړه ❁ غرض دا چې د **الله** پاک د طرف نه په دوئي باندې پرله پسې اِنعامونه کېدل او د دوئي د طرف نه پرله پسې په نافرمانو پسې نافرمانۍ کېدلې، د دې پورې چې د دوئي زړونه سخت شول، بيا هٰغه وخت هم راغلو چې **الله** پاک وفرمائيل:

وَ ضُرِبَتْ عَلَیْهِمُ الذِّلَّةُ وَ الْمَسْكَنَةُ ۗ وَ بَآءُوْ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ ؕ

(پارہ: 1، سورۃ البقرۃ: 61)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: او په هغوئي خواري او نبستي مسلط کړے شوه او هغوئي د **الله** د غضب حقدار شو-

دا ولې وشول؟ ځکه چې دوئي نافرمانۍ اوکړې او د حَد نه ووتل-

په نافرمانه باندې د الله پاک لعنت

د حضرت وَهب رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ نه روايت دے، **الله** پاک د بني اِسرائيلو په انبياؤ کښې د يو نبي عَلَیْہِ السَّلَام طرف ته وحي وفرمائيله: چې اِنسان کله زما اطاعت کوي نو زۀ د هغۀ نه راضي کېږم او کله چې زۀ د هغۀ نه راضي شم نو هغۀ ته برکتونه عطا کووم- کله چې بنده زما نافرماني کوي نو زۀ د هغۀ نه ناراضه کېږم او کله چې زۀ د هغۀ نه ناراضه شم نو په هغۀ باندې لعنت ورووم او زما لعنت د هغۀ د 7 پېړو پورې رسېږي- [1]

---

[1]... الزواجر عن اقتراف الکبائر، مقدمۃ المؤلف، جلد: 1، صفحہ: 27 ملتقطاً۔

گر تُو ناراض ہوا میری ہلاکت ہوگی
ہائے! میں نارِ جَہنَّم میں جلوں گا یارَبّ!
عَفو کر اور سدا کے لئے راضی ہو جا
گر کرم کر دے تُو جنّت میں رہوں گا یارَبّ![1]

نافرمانیِ ذلیله او رسوا کړل

حضرت جُبَیر بِن نُفَیر رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: کله چې مسلمانانو قُبرُص فتح کړو نو ما ولیدل چې صحابيِ رسول حضرت ابو درداء رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ځانله ناست دے او ژاړي، زۀ د هغوئي پۀ خِدمت کښې حاضر شوم او عرض مې اوکړو: عالي جاه! نن خو الله پاک مسلمانانو ته پۀ کافرانو باندې غلبه عطا کړې ده (یعنې نن خو د خوشحالیِ ورځ ده) او تاسو اوښکې توئیوئ؟ حضرت ابو درداء رَضِیَ اللهُ عَنْهُ وفرمائیل: اے جُبَیره! غور خو اوکړه---! څوک چې د الله پاک نافرماني کوي، هغه د خپل رَبّ پۀ دربار کښې څومره بے حیثیته کیږي- د قُبرص اوسیدونکي څومره د غلبې او عزت والا وو، هغوئي د الله پاک حکمونه پرېښودل، د خپل رَبِّ کریم نافرماني یې اوکړه نو د هغوئي دا حال شو (چې نن یې ماتې وخوړله او ذلیله او رسوا شول)-[2]

نافرماني د ذِلت او د رسوایيِ ذریعه ده

اے د خورِ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نافرماني د ذِلت او رسوایيِ ذریعه ده، کوم اِنسان چې د الله پاک نافرمانی کوي، توبه نۀ کوي، د الله پاک طرف ته رجوع نۀ کوي، هغه د الله پاک پۀ دربار کښې ذلیله او رسوا کیږي او د الله

---

[1]...وسائلِ بخشش، صفحہ:85ملتقطًا۔
[2]...زُہدِ امام احمد بن حنبل، زہد ابی الدرداء رَضِیَ اللهُ عنہ، صفحہ:182، رقم:764۔

پاک پۀ دربار کښې د هغه هيڅ حيثيت نۀ پاتې کيږي او کوم اِنسان چې د **الله** پاک پۀ دربار کښې ذليله او رسوا شي [يعنې] د چا چې د رَبُّ العزّت پۀ دربار کښې هيڅ حيثيت پاتې نۀ شي، د هغۀ پۀ يو ځائے کښې هم عزت نۀ نصيب کيږي- پۀ 17 سيپاره، د سورۀ حَج پۀ آيت: 18 کښې اِرشاد دے:

وَ مَنْ یُّهِنِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّكْرِمٍؕ (پارہ:17، سورۃ الحج:18)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: او هغه څوک چې **الله** يې ذليله کړي نو هغۀ ته هيڅ څوک عزت ورکوونکے نشته-

پۀ **تفسیر صِراطُ الـجنان** کښې د دې آيت لاندې دي: معلومه شوه چې عزت او مشهورتيا د يو قوم يا ګس ميراث نۀ دے چې يو اِنسان غواړي که هر څومره **خراب کارونه** کوي، خپله اعمال نامه د ګناهونو نه ډکه کړي، د هغۀ کردار پۀ نافرمانو باندې داغداره شي، د دې باوجود به هغه د عزت سره ژوند تېروي---! نا! نا! داسې نۀ ده بلکې ❁ څوک چې پۀ خپلو اخلاقو او کردار ❁ نېک اعمالو ❁ پۀ خبر خواهۍ او خوا خوږۍ خپل ځان د عزت حقدار ثابتوي، **الله** پاک هغۀ ته عزت عطا کوي او څوک چې پرله پسې پۀ نافرمانو کښې اخته اوسي، **هغه د ذِلت ژوړې کندې ته غورځولے کيږي-** [1] **الله** پاک دې مونږ ته د اطاعت او فرمانبرداريۍ توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

تُو بس رہنا سدا راضی، نہیں ہے تابِ ناراضی
تو ناخوش جس سے ہو برباد ہے تیری قسم مولیٰ (2)

د بيان خُلاصه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د بيان خُلاصه دا ده چې **الله** پاک بني اِسرائيلو ته ډېر نِعمتونه عطا کړل، هغوئي ته فضيلتونه عطا کړے شول، د هغوئي د پاره نبيان راوليږلے شول،

---

[1]... تفسیر صراط الجنان، پارہ:17، سورۂ حج، زیر آیت:18، جلد:6، صفحہ:418و419 مفصلًا-
[2]... وسائلِ بخشش، صفحہ:98-

اسماني کتابونه پرې نازل کړے شول، هغوئ ته ډېر ډېر فضيلتونه عطا کړے شول خو هغوئ د دې لائق جوړ نۀ شول، هغوئ ❁ د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام بے ادبيانې اوکړې ❁ پۀ حَسَد کښې اخته شول، د حَسَد پۀ وور کښې د سوزېدو په وجه يې د شِرکه پورې رسېدو باندې هُم شرم محسوس نۀ کرو ❁ **الله** پاک پۀ هغوئ باندې اِنعامونه فرمائيل خو هغوئ پرله پسې پۀ نافرمانو پسې نافرمانۍ کولې، اخر **الله** پاک پۀ هغوئ باندې ذِلَّت او رسوائي مسلط کړه۔

اوس مونږ اخري اُمت يو، **الله** پاک مونږ ته د **خېرِ اُمَّت** لقب راعطا کړے دے، مونږ له پکار دي چې د خپل دې منصب قدر اوکړو، د **الله** پاک شُکر ادا کوو، هغه ته سر ټيټ ساتو، د نبيانو، وليانو ادب کوونکي اوسو ❁ د حَسَد وغېره باطني بيمارو نه هم بچ اوسو او ورسره ورسره د **الله** پاک د نافرمانو نه هم ډډه کوو د پاره د دې چې مونږه واقعي د **خېرِ اُمَّت** يعني د ډېر افضل اُمت جوړېدو حقدار جوړ شو۔ **الله** پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔ اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

آن لائن اِستخاره موبائل ايپلي کښې

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ د خلقو د اسانۍ او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمَّت د غمخورۍ د پاره موبائل ايپلي کيشن ***Online rohani ilaj & istikhara*** معارفي کړے دے۔ د دې ايپلي کښې پۀ مرسته تاسو ❁ آن لائن استخاره کولے شئ ❁ د بيماری، نظر، جادو، منتر وغېره مسئلو د حل کولو د پاره في سبيل الله تعويذونه حاصلولے شئ ❁ او آن لائن کاټ هم کولے شئ۔ **نور پۀ دې ايپلي کښې کښې** ❁ د بيمارۍ ❁ غريبۍ ❁ غم، پرېشانۍ ❁ او د افتونو او بلاګانو وغېره نه د حفاظت مختلف اوراد او وظيفې هم شاملې دي۔ پۀ خپل سمارټ فون کښې دا ايپلي کښې ډاؤن لوډ کړئ! ښېلې تربنه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ على مُحَمَّد

د بيان پۀ اخره کښې راځئ چې يوه شرعي مسئله زده کړو:

صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا پۀ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پۀ کوته کول)

مسئله: د قُرآني آيتونو او حديثونو والا اوراق پۀ ردۍ کښې خرڅول جائز نۀ دي-

وضاحت: دلته عام طور زړې کاپيانې، د سکول کتابونه او اخبارونه وغېره پۀ ردۍ کښې خرڅولے کيږي، پۀ دې کښې عام طور قرآني آيتونه او حديثونه وغېره هم ليکلے شوي وي، ياد ساتئ چې پۀ کوم کاغذ، کتاب يا کاپۍ وغېره کښې قرآني آيتونه، حديثونه ليکلي وي، هغه پۀ ردۍ کښې خرڅول جائز نۀ دي- پۀ **فتاىٰ رضويه شريف کښې دي:** پۀ دې (يعنې اخبارونو وغېره) کښې که آيت، حديث يا د **الله** او د رسول [صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] او د فرښتو وغېره نومونه يا شرعي مسئلې ليکلے شوې وي نو دا خرڅول جائز نۀ دي، دا اوراق وکورئ او آيتونه، حديثونه وغېره د دې نه بيل کړئ، بيا يې خرڅولے شئ- [1]

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو زده کولو او پۀ هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ على مُحَمَّد

د اَسْمَاءُ الْحُسْنىٰ برکتونه (وظيفه)

يَا صَبُورُ (اے مُهلت ورکوونکيه)

چا ته چې څۀ درد، غم يا مصيبت پېښ شي نو هغه دې 33 کرته **يَا صَبُورُ**

---

[1]... فتاوی رضویہ، جلد23، صفحہ400 مفصلاً۔

ولولي اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! سکون به يې نصيب شي۔ [1]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ على مُحَمَّد

[1]... مدنی پنج سورہ، صفحہ:259۔